AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبیدالله نادر

۲۰۲۰/۰۶/۱۵

# لا تر اوسه نه پوهېږم

په ټول عمر په خپل حال باندی ژړېږم
لکه شمـــع په خیر، سوزیږم او ویلیږم

که هر څومره غزوم، تنـــــاب د فـکر
په معـــنی کـــې د ذرې هم نه رســـیږم

جهالت یم، د غفلت په خوب ډوب کړی
چې معنی، له دې عـــالمه، نه خبریږم

عاجزی قصـــــور چې وینمه په ځان کی
سمندر د اند ېښــــنو کـــې، لاهو کیږم

سل افسوس زما په حال باندی په کار دی
عمر تیر شـــو لا تر اوســـه، نه پوهیږم


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ